پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۱۹/۱۰/۲۴

# د ملګرو ملتونو سازمان

# United Nations Organization

( د ملګرو ملتونو د نړیوالې ورځې په مناسبت)

د ملګرو ملتونو سازمان (UN) یو مهم نړیوال سازمان دی، چې دوهمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیېدو سره سم؛ د ۱۹۴۵م. کال د اکتوبر په ۲۴ مه نیټه، د جګړې دفاتحینو او یو شمیر نورو هیوادوله یو شمیر غونډو وروسته تاسیس شو. د مسکو د کنفرانس د ۱۹۴۴م. کال د جنورې د میاشتې د اعلامیې له مخې د ۱۹۴۵م. کال فبروري (۱۲۲۴ل. کال حوت) کې د سانفرانسیسکو کنفرانس او بیا د ۱۹۴۵م. کال د اپریل په دوهمه د امریکې متحده ایالاتو کې د یوه بل کنفرانس په پایله کې چې په هغه کې له پنځوسو هیوادو څخه ۲۶۰ تنو استازیو ګډون کړی و د ملګرو ملتونو سازمان، دپخوانی دملتونو ټولنې پر ځای، په کار پیل وکړ.

د دغه نړیوال لوی سازمان د تاسیس او غوره پایلو د ترلاسه کولو لپاره دوه میاشتې بحثونه وشول چې په پای کې د ۱۹۴۵م. کال د جون په ۲۵ مه د م.م. منشور د رایو په یووالې تصویب شو او دغه سازمان په رسمې ډول د پخوانی د ملتونو ټولنې(League of Nations) پرځای پرانیستل شو او د هغې د ځای ناستې په توګه یې په کار پیل وکړ. د سانفرانسیسکو په کنفرانس کې چې (د نړیوال سازمان په هکله د ملګرو ملتونو کنفرانس) په نوم یاد شو، د بحث وړ موضوعات د متحدو دولتونو په تیره بیا دلویو قدرتونو( په دوهمه نړیواله جګړه کې بریالیو هیوادو) د پخوانې توافق سره سم مسایل په څلورو برخو ویشل شوې وو او هره موضوع د جلا جلا کمیسیونونو له خوا تر کتنې لاندې ونیول شوه. لومړنې کمیسیون دسازمان لومړنې اهداف، دهغه اصول او هغه کې غړیتوب، دارالانشاء او د منشور په اصلاحاتو کتنه وکړه. دوهم کمیسیون د عمومې غونډې په واک او مسؤلیتوو باندې کتنه وکړه. دریم کمیسیون د امنیت د شورا په چارو او واک باندې خبرې وکړې او څلورم کمیسیون د عدالت د نړیوالې محکمې پر اساسنامه باندې کتنه وکړه وروسته بیا دغه منشور د هیوادونو د قانونې مراجعو له خوا تصویب شو او د ۱۹۴۵م. کال د اکتوبر په ۲۴ مه (د ۱۳۲۴ل. کال د لړم په دوهمه) باندې د یوه نړیوال قرارداد په توګه د قانونې اعتبار لرونکی شو. له همدې امله هر کال دغه ورځ د م.م. د ورځې په نوم لمانځل کیږي.

د ملګرو ملتونو اساسی سند (منشور) په ۱۹ څپرکیو او ۱۱۱ موادو کې تدوین شوی دی او د عدالت د نړیوالې محکمې اساسنامه د هغه د نه جلا کیدونکې برخې په توګه ورسره مل شوې ده. دغه منشور د ۱۹۴۵م. کال د اکتوبر په ۲۴مه وروسته تر هغې چې د امریکې متحده ایالاتو، انګلستان،د چین د خلکو ولسی جمهوریت، شوروي اتحاد او

فرانسي او يو شمير نورو لاسليک کوونکو تصويب کړ، د اجرا وړ وګرځيد. په ۲۰۱۱م. کال کې، چې دنړۍ په نقشه کې تغييرات راغلل، د م.م. د غړو شمير۱۹۳ هيوادو ته رسيد. دا ټول د نړې هغه خپلواک هيوادونه دي چې له نړيوال پلوه په رسميت پيژندل شوي دي. يواځې واتيکان د م.م. د سازمان غړيتوب نه دی منلی او ملي چين (تايوان هم د هغه له غړيتوب څخه و ايستل شو چې چين ددغه سازمان غړی شو)، نور ټول هيوادونه د م.م. غړي دي. د م.م.د سازمان دفتر په نيويارک کې دی چې د کوچنۍ راکفلر جان ډي په لګښت د ۵،۸ مليونه ډالرو په بيه جوړ شوی دی. ددغې ودانۍ ډيزاين برازيلي انجنير(اسکارني مير) کړی دی. د م. م. د سازمان غړی هيوادونه او هغه پورې تړلي سازمانونه هر کال منظمې غونډې لري، نړيوال مسايل څيړي او په دې هکله پريکړې کوي. د م.م. د سازمان اهداف چې د هغه د منشور په لمړۍ ماده کې راغلي دي داسې دي:

۱. دنړيوالې سولې او امنيت ساتنه: په سوله ييزه توګه او د نړيوالوحقونو او اصولو له مخې د نړيوال امنيت په وړاندې د ګواښونو له منځه وړل او د شخړو د هوارې لپاره ډله ييزې هڅې، د هر ډول تيری کوونکو اعمالو ټکول او د سولې په وړاندې د خنډ لرې کول، د نړيوالو شخړو د حل کولو د لارو هوارول او د هغه وضعيت سمون چې نړيواله سوله له منځه وړي،

۲. دخپل برخليک په ټاکلو کې د خلکو مساويانه حق ته د درناوې له مخې د نړۍ د هيوادونو ترمنځ دوستانه اړيکو ته پرمختيا ورکول او د نړيوالې سولې د ساتنې په خاطر د نورو لازمو اقداماتو ترسره کول،

۳. د نړيوالو هغو مسايلو په حل کې د نړيوالې مرستې ترلاسه کول چې اقتصادي، ټولنيز، بشردوستانه او کلتوري اړخونه لري او له نژادي، قومي، مذهبي او ژبني توپير پرته د ټولو لپاره د اساسي آزادي ګانو او د بشر حقونو ته درناوی هڅوي او هغه پرخای کوي،

۴. دهغو ګډوفعاليتونو د همغږۍ د ترسره کولو په خاطر د مرکزي دفتر لرل چې دنړۍ هيوادونه يې پرمخ بيايي.

د دغه سازمان د منشور په دوهمه ماده کې راغلي دي:

۱) سازمان د غړو هيوادونو د کليه حاکميت د مساواتو پر اصولو ولاړ دی،

۲) ټول غړي په سازمان کې د خپل غړيتوب د حقوقو او ښيګنو د تضمين په موخه؛ هغه ژمنې چې د دغه منشور له مخې يې په غاړه اخيستي دي، بايد په ښه نيت ترسره کړي،

۳) ټول غړي به نړيوالې شخړې له سوله ييزو لارو څخه چې نړيوال امنيت او سوله له ګواښ سره مخامخ نه کړي، هواروي،

۴) ټول غړي په خپلو نړيوالو اړيکو کې د يوبل هيواد د سياسي خپلواکي او ځمکني بشپړتيا په ضد له زور او ګواښ څخه کار نه اخلي او له هر هغه اقدام به ځان ساتي، چې د م.م. له موخو سره په تضاد کې وي،

۵) ټول غړي هيوادونه ددغه منشور سره سم د م.م. د هر اقدام ملاتړ کوي او له هر هغه هيواد سره به مرسته نه کوی چې م.م. دهغه په وړاندې احتياطي يا قهري اقدام کړی وي،

۶) د م.م. سازمان به د هغو هيوادو څارنه کوي چې د م.م. غړي نه وي او ترهغو چې نړيوالې سولې او امنيت ته اړتيا لري له دغو اصولو سره سم به عمل ورسره کوي،

۷) په دغه منشور کې هيڅ يو درج شوی مقررات م.م. ته د دې اجازه نه ورکوي چې په هغو چارو کې لاسوهنه وکړي چې د هيوادونو کورني واک پورې اړه لري او غړي هيوادونه هم دې ته نه اړکوي چې د دې ډول مسايلو د حل و فصل کولو په خاطر ددغه منشور تر مقرراتو لاندې راولي.

## د م. م. اصلي ارکان دا دي:

د م. م. عمومي غونډه، د امنيت شورا، اقتصادي او ټولنيزه شورا، د قيموميت شورا(چې له ۱۹۹۴ څخه وروسته نور فعاليت نه کوي)، د عدالت نړيواله محکمه او يو سکرتريت. همدارنګه د ملګرو ملتونو سازمان يو شمير نور پروګرامونه او بنسټونه هم لري، لکه: يونسکو، يونيسف، نړيوال روغتيايی سازمان او د پناغوښتونکو لپاره د م. م. د سازمان عالي کمشنري. له دې پرته UNCTAD يا (United Nations Conference on Trade and Development) هم د م.م. د سازمان د عمومي غونډې

يوه فرعي برخه ده. د چاپيريال ساتنې پروګرام، د خوراک اوکرنې سازمان او دې ته ورته پروګرامونه د م.م. هغه د نیک نوم لرونکې پروګرامونه دي، چې تير وخت کې يې بشريت ته نه هيريدونکې خدمات او مرستې تر سره کړي دي.
دغه سازمان هرکال خپله عمومي غونډه دايروي. عمومي غونډه کې د م.م. ټول غړي ګډون کوي. هر غړی له پنځوسو تنو زيات استازي عمومي غونډې ته نه شي ليږلای. د عمومي غونډې هر غړی يوه رايه لري. د مهمو مسايلو په هکله د عمومي غونډې پريکړه د غړو په اکثريت (له دريو برخو دوه برخې) باندې کيږي. د م. د امنيت شورا پنځلس غړي لري چې له دې ډلې څخه پنځه يې دايمي (دامريکې متحده ايالات، روسيه، انګلستان، چين او فرانسه) دي او لس نور يې غير دايمي دي چې د دوو کلونو لپاره ددغې شورا غړيتوب کې منل کيږي. افغانستان وروسته تر ۱۹۴۶/۱۱/۹ نيټې څخه ددغه سازمان غړی شوی دی. په دې توګه زموږ هيواد د دغه نړيوال با پرستيژه سازمان يو ډير پخوانی غړی دی، چې د دغه سازمان اصولو (منشور) ته تل وفادار پاتې شوی دی. دملګرو ملتونو سازمان تل افغانستان ته په درنه سترګه کتلې دی او د افغانستان پتمنو خلکو او تاريخې ملت ته يې د درناوی سر ټيټ کړی دی.
دغه سازمان د خپل عمومي چارتر(اساسنامی) له مخې هرکال د سيپتمبر په مياشت کې د نيويارک ښار په مرکزي مقر کې کلنۍ غونډه کوي. سږکال د ملګرو ملتونو ۷۴ مه کلنۍ غونډه څه موده وړاندې دايره شوه چې له افغانستان څخه د امنيت شورا رئيس ښاغلی محب پکې ګډون وکړ. دغه غونډه کې هم د تير په شان مهمو جهانشموله مسايلو باندې بحثونه وشول لکه د ځمکې تودوخې او اقليمي بدلون موضوع، نړيوال روغتيايي پروګرام، پرمختيايي پايداره (ثبات لرونکي) ودې، نړيوال امنيت او داسې نورسږنې غونډ کې د ملګروملتونو عمومي منشي انتنيوګوتيريش د نړۍ له ټولو مشرانو نه وغوښتل چې د م. م. اړوند اهدافونو لپاره د ۲۰۲۰ کال په تمويلي پروګرامونو کې د خپلې ونډې د ادا کولو لپاره جدي او رينتيني اقدامات وکړي او خپله همکاري پراخه او ښه کړي.
ګوتيريش وويل ټول هيوادونه به د صنعتي توليداتو له امله هوا ته د خپريدونکي ګاز او لوګي اندازه تر راتلونکي کاله پورې تر٪ ۴۵ کمه کړي او تر ۲۰۵۰ ميلادي کاله پورې يې بلکل صفر ته ورسوي.
د م.م. د ۲۰۱۹ کال د کلنۍ غونډې په پای کې د ۲۰۱۹-۲۰۲۰ کلونو لپاره په نوبتي توګه د ګانا هيواد ته دا چانس ورکړ شو چې د هال په لمړی څوکۍ کې کيني او د ملګرو ملتونو د دود له مخې به د عمده کميټې په غونډو کې هم لمړی څوکۍ ولري او باقي غړي هيوادونه به د انګليسي الفبا په ترتيب ځای نيسي. پخوا هم د هر هيواد په برخه کې همدغه دود رعايت شوی و.
افغانستان ددغه سازمان منشور ته درناوی لری. د دغه سازمان د اړوندو پروګرامونو د مرستو هرکلی او درناوی کوی. هيله لرو دغه بااعتباره نړيوال لوی سازمان خپلو بشری اهدافو کی بريالی وی. يو ځل بيا د اکتوبر ۲۴ مې له امله د نړې ټول بشريت او د م.م. دسازمان عمومی منشی او خپل ځوريدلي، خو باهمته ولس ته مبارکی وايو.

**** **** ****

تذکر:
هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

د ملګرو ملتونو سازمان
b_doodial_de_melgero_melato_saazmaan.pdf